د مالیې وزارت

د گمرکونو لوی ریاست

# د گندو/ بلتی توکو د گمرکی طی مراحلو کړنلاره

نیټه : کب ۱۳۹۳

## لومړی ماده

تعریف

بیلتی ( ګندي) د هغه توکو څخه عبارت دی چی محموله یی د مختلفو توکو څخه تشکیل شوی وی او په انفرادی توګه د حقیقی اشخاصو له لوری په ګاوندی هیوادونو کی د بارچالانی شرکتونو یا لیږدونکو ته سپارل، او د دوی په واسطه افغانستان ته را لیږدول کیږی. معمولاً د بیلتی توکی په لیږدونکو پوری اړه نلری صرف د لیږدونی او ګمرکی مرحلو طی کولو مسولیت یی په غاړه لری.

## دوهمه ماده

موخه

ددی طرزالعمل اساسی موخی د ناسم او تور سوداګری کچه راتیټول، د عوایدو لوړوالی، د غیر معیاری،ممنوعه، غیر مجاز او منفجره توکو د وارداتو مخنیوی دی.

## دریمه ماده

ستونزه

له ډیری مودی را هیسی د افغانستان د ګاونډیو هیوادونو څخه یو تعداد شرکتونه چی په اصل کی واردونکی نه بلکه د توکو انتقالونکی دی او د نورو اشخاصو او شرکتونو اړوند سوداګریز توکی د بیلتی (ګندی) په توګه د افغانستان ګمرکی قلمرو ته را واردوی. ګندی په یو لیږدونکی وسیلی کی چی ځوګونی ډوله توکی پکی شتون لری د تعداد، مقدار او کیفیت د څرنګوالی له مخی یی سم معلومات ګمرک ته نه اظهاریږی. د دغه ناسم تجارت شتون ګمرکونو، سوداګرو او عامو خلکو ته یو لړ جدی ستونزی رامنځته کړی چی په لنډه ډول لاندی د ذکر وړ دی:

- ګمرکونو ته د صحیح اسنادو نه وړاندی کول، غلط اظهار او د عوایدو ضایع کیدل
- د محمولی د پیچلتیا له امله په محموله کی د غیر معیاری، ممنوعه، غیر مجاز او منفجره توکو د شتون احتمال
- ګمرکی کارکوونکو ته د سمی تشریح او فزیکی معاینی د پروسی پیچلتیا
- د کره او دقیقی سوداګریزی احصایی نه راتولیدل
- د سمې او قانونی سوداګری نه حمایه او د ښو سوداګرو ته د سم رقابت د شرایط نه برابرول
- د تولنی او چاپیریال د حفاظت او سلامت اصل نه رعایتیدل

## څلورمه ماده

عمومی شرایط

1. دګمرکونو قانون د یولسمی مادی (۲) فقری او دری پنځوسمی مادی (۲) فقری په رڼا کی هغه شرکتونه چی غواړی د ګنډی توکی ددغه کړنلاری په اساس ولیږدوی باید د سرحدی ګمرکونو سره پنځه سوه زره (پنځه لکه) افغانی د دایمی تضمین په توګه وساتی. د ګنډی د توکو د لیږد شرکتونه نشی کولی عادی سوداګریز توکی او یا د شرکتونو توکی انتقال یا وارد کړی.
2. د ګنډی توکی چی افغانستان ته واردیږی په لاندی ځایونوکی تشریح او ګمرکی مراحل طی کولای شی:
   i. **په سرحدی ګمرکونو کی:** لکه د تورخم او ویش چی د تخلیی، تشریح او محصول امکانات پکی موجود دی د بیلتی توکی کیدای شی په دی سرحدی ګمرکونو کی طی مراحل شی.
   ii. **په محصولی ګمرکونو کی:** په سرحدی ګمرک کی د تضمین د ورکولو او د T1 دترتیب نه وروسته لیږدونکی کولای شی چی خپلی د بیلتی محمولی په محصولی ګمرک کی په مکمل توګه تخلیه، تشریح او محصول کړی.
   iii. په ځانګړی حالاتو کی ګمرکونه کولای شی د بیلتی توکی د ګمرکی طی مراحلو او د محصول د اخیستلو د موقعیت په اړوند خپل مناسب تصمیم ونیسی.
   iv. د ګمرک مامورین کولای شی د اړتیا په وخت کی په هغه ځای کی چی د بیلتی توکی په کی تخلیه کیږی حضور ولری د مثال په توګه د بیلتی اډه او یا ګدام او بل کوم ځای چی مخکی له مخکی تعیین شوی وی. پدی حالت کی به د ګمرک مامور مکلف وی چی د اظهارشوو اسنادو سره سم د تخلیه څخه وروسته د توکو نوعیت او تول نور مشخصات معلوم کړی.

## پنځمه ماده

د لیږدونکی شرکتونو مسولیتونه

۱- لیږدونکی شرکتونه مکلف دی دتسلیمیدو په وخت کی د توکو مشخصات لکه کمیت او کیفیت څخه پوره ډاډ حاصل او د توکو د مالکیونو څخه لاندی معلومات تر لاسه کړی:
- دبارولو او په افغانستان کښی د خالی کولو ځای او دقیقه پته.
- د لیږدونکی وسیلی مشخصات.
- د هری بستی د خاوند نوم ،مکمله پته او د تلیفون شمیره.
- د هر مال د اړوند توکی نوم، تعداد، مقدار او وزن

۲- شرکتونه مکلف دی چی په ګاونډی هیوادونو کی د توکو د تسلیمیدو په وخت کی د هغی دقانونیت په هکله پوره ډاډ حاصل کړی. او هغه مالونه چی واردول یی منع دی او یا ځانګړی جواز ته اړتیا ولری او یا د ګنډو په شکل یی واردول غیر مجاز دی لکه (سریع الاشتعال او سریع الفساد مالونه، درمل، غذایی مواد، مُبایل، او قیمتی فلزات) په محموله کی بارنکړی او که چیری وروسته ګمرک ممنوعه اموال د تشریح په وخت کی پیدا کړل د قانون سره سم ضبط کیږی.

۳- شرکتونه مکلف دی چی د افغانستان گمرکی قلمروته په داخلیدلو سره سم په لاری او یا کانتینر کی د ټولو واریدیدونکو مالونو عمومی جدول (معیاری فارمت ددی کړنلاری سره مل دی)، مکمل بارلیک د ځان سره ولری او گمرک ته یی تسلیم کړی.

۴- شرکتونه مکلف دی چی توکی په منظمه توگه بنډل او یا په کارتننو کی ځای پر ځای کړی. او په هر کارتن دی د توکو مشخصات او د خاوند نوم ولیکی.

۵- د کندی توکی باید په کانتینرونو او یا هغه ډول لیږدونکی وسیلو کی انتقال شی چی په بشپړډول د سیم او سرغچ وړ وی.

۶- ټول هغه توکی چی د قانون له مخی یی واردول منع دی او یا هم په مشروط ډول یی واردول مجاز دی د بیلتی په توگه یی راوړل ممنوع دی.

**شپږمه ماده**

د گمرکی کمیشنکار مسؤلیتونه

په سرحدی او محصولی گمرکونو کی گمرکی کمیشنکاران مکلف دی چی د هیواد گمرکونو ته دی د بیلتی مالونو د اظهار په وخت کی د توکومکمل مشخصات، مقدار، وزن، کمیت او کیفیت څخه پوره ډاډ حاصل کړی. او همدارنگه دی د شرکتونو څخه د پنځمی مادی سره سم ټول اسناد د ترلاسه او د مکمل ډاډ ترلاسه کولو وروسته دی نوموړی محمولی ته اظهارلیک ترتیب کړی.

**اوومه ماده**

د سرحدی گمرکونو د مامورینو مسولیتونه

1. د سرحدی گمرکونومامورین مکلف دی چی هیواد ته د بیلتی مالونو د واردیدو په وخت کی د توکو مکمل مشخصات، مقدار، وزن، کمیت او کیفیت څخه پوره ډاډ حاصل کړی. او همدارنگه د کمیشنکار څخه مکمل اسناد (د پنځمی مادی سره سم) ترلاسه کړی او د ډاډ ترلاسه کولو وروسته دی ټول اسناد په ځانگړی توگه عمومی جدول مهر او امضا او نوموړی محمولی ته T1 ترتیب کړی.
2. د سرحدی گمرک کمیشن کار او گمرکی مامور د T1 او اظهارنامی د ترتیب په وخت کی مکلف دی چی په مربوطه خانو کی د گنډو (بیلتی) مشخص کوډ ولیکی.
3. د سرحدی گمرک مامورین مکلف دی چی د کندی لاریو یا کانتینرونو ته د T1 ترتیبولو په وخت کی وزن (د گمرکی تلی په موجودیت کی) او وروسته سیم او سرغچ ولگوی.

## اتمه ماده

د محصولی گمرک مسولیتونه

د محصولی گمرکونو د دخولی دروازی مامورین مکلف دی د دخولی دروازی د ثبت او راجستر څخه وروسته دګنډی لاری یا کانتینرونه یو خاص گدام ته معرفی کړی او هلته د مربوطه شرکت د استازی په موجودیت کی تخلیه او مکمل تشریح کړی.

## نهمه ماده

انفاذ

دا کړنلاره د منظوری څخه وروسته د تطبیق وړ ده.

---

د گمرکونو لوی ریاست

منظوری:

---

د مالیی وزارت